د حزب التحریر
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحریر
HIZB UT TAHRIR

پنجشنبه 1 ذیالقعده، ۱۴۴۵هـ | ۲۰۲۴/۰5/09م | گڼه: ح.ت.افغ 22/۱۴۴۵

## مطبوعاتي اعلامیه

### د متکبر غرب جنایتونو ته غاښ ماتوونکی ځواب او د مسلمانانو له وینو دفاع د امت له وحدت او د نبوت پر منهج خلافت له تاسیس پرته شوني نه ده

ګارډین ورځپاڼې راپور ورکړی چې په افغانستان کې د بریتانیایي پوځیانو د جنګي جنایتونو قضیې ته رسیدګي ښایي تر ۲۰۲۵م کال پورې وځنډېږي. د بریتانیا هوایي ځواکونه په هلمند ولایت کې د افغانتسان د شاوخوا ۸۰ مسلمانانو پر وژنې تورن دي. ویل شوي چې دغو سرتېرو یاد کسان د ۲۰۱۰-۲۰۱۳ کلونو ترمنځ د خوب پر مهال یا تر نیولو وروسته په سړه سینه وژلي. د قضیې یوه وکیل ویلي چې د بریتانیا ځانګړو ځواکونو په هلمند کې «د جګړې پر شرایطو برابرو ټولو نارینه‌وو» د له منځه وړلو سیاست پلی کړی. دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۲۰م کال کې د استرالیا نظامي څېړنو هم تایید کړې وه چې د دغه هیواد ځواکونو په افغانستان کې د ۲۰۰۵-۲۰۱۶ کلونو ترمنځ د ماشومانو او بندیانو په ګډون شاوخوا ۳۹ ملکیان په مرمیو وژلي.

یادې پېښې په افغانستان کې د بهرنیو اشغالګرو ځواکونو د زرګونو جنایتونو وړه بېلګه ده چې ډېره کمه برخه یې منعکسه شوې. د مسلمانانو پر وړاندې د غرب جنایتونه یوازې تر افغانستانه نه را لنډېږي، بلکې ۱۰۳ کاله کېږي چې د خلافت دولت په نشتون کې له فلسطین څخه تر عراق او له سوریې تر افریقا پورې د مسلمانانو وینه په ډېرې بې رحمۍ تویېږي او د مسلمانانو هېڅ پوځ او حاکم نشته چې د دغې ارزښتمنې وینې دفاع وکړي. ان تر دې چې د مسلمانانو وینه د غربي سرتېرو پر سرګرمۍ بدله شوې؛ ځینو امریکایي او د ناټو پوځیانو اعتراف کړی چې په افغانستان کې یې د ماموریت پر مهال د شرط ترلو او د تفریح په موخه ملکي خلک ویشتل.

په غرب کې چې د جنګي جنایتونو د څېړلو لپاره کومې محکمې جوړېږي، د عدالت ټینګولو وړتیا نه لري. ډېری تورن کسان د ډول ډول جنګي جنایتونو پر ترسره کولو سربېره، په نظامي محکمه کې تبرئه شوي او له معنی لرونکې موسکا سره له محکمې وتلي. لکه څه ډول چې ټرمپ په ۲۰۱۹ کال کې درې هغه جنګي جنایتکاران وبښل چې په افغانستان او سوریه کې د بې ګناه مسلمانانو قاتلین وو او ان محکمو پرې د اوږدې مودې بند جزا حکم صادر کړی و.

په دې کې هېڅ شک نشته چې د غرب ټول تاریخ د بشریت پر وړاندې له جنایتونو ډک دی او په هره خاوره کې یې چې خپل شوم ګام ایښی، وحشت او جنایت یې رامنځته کړی. ځکه چې غربي اشغالګر هېڅ انساني او اخلاقي ارزښت ته ژمن نه دي. د غرب جرایم یوازې تر جنګي جنایتونو نه را لنډېږي، بلکې له هغه وخته چې خلافت سقوط شوی او د ډیموکراسۍ فاسدې مفکورې او وینه زبېښونکي پانګوال نظام د نړۍ واکمنۍ په لاس کې اخیستې، ټول بشریت او په ځانګړې ډول اسلامي امت تر اشغال، استعمار، ظلم او جنایت لاندې دی او ان ځمکه، سمندر، مرغان او ژوي هم د دوی له جنایتونو خوندي نه دي پاتې.

په حقيقت کې؛ هر مسلمان چې وژل کېږي، هغه يو عدد نه بلکې يو انسان دی او هر ځاځکی وينه يې تر کعبې لوړ ارزښت لري؛ د مسلمان د يوه ځاځکي وينې لپاره پکار ده چې د غرب مبدأ، ثقافت او نظم يې را نسکور او له منځه لاړ شي. خو هغه څه چې د خواشينی وړ دي، دا دي چې په تېرو ۲۰ کلونو کې د افغانستان د مسلمان او مجاهد ولس پر وړاندې د غرب پر جنګي جنايتونو سربېره، اوسنی حاکم نظام له دغو جنايتکارانو سره د نږدې اړيکو ټينګولو په هڅه کې دی او د بريتانيې او امريکا له امنيتي چارواکو او ډيپلوماټانو سره سياسي او امنيتي ناستې کېږی. په دغو ناستو کې له هغوی څخه د سياسي مشروعيت او اقتصادي مرستو غوښتنې کېږي. موږ په ډير اخلاص خپلو مجاهدو ورونو ته شرعي تذکر ورکوو چې پياوړی نظامي موقف مو د جګړې په ډګر کې د دښمن د ماتې سبب شو، اړتيا ده چې د سياست او ډيپلوماسی په ډګر کې هم پياوړی شرعي موقف ونيول شي چې دغه مکار او جنايتکار دښمن زموږ په خاورو کې د نفوذ فرصت او جرات پيدا نه کړي. شرعي سياست حکم کوي چې له دغو جنايتکارانو سره هر راز سياسي او اقتصادي تعامل پای ومومي او د امت د وحدت لپاره هڅې وشي. ځکه چې د متکبر غرب جنايتونو ته غاښ ماتوونکی ځواب او له اسلامي ارزښتونو او د مسلمانانو له وينو دفاع د امت له فکري، سياسي، نظامي او جغرافيوي وحدت او د نبوت پر منهج خلافت له تاسيس پرته شونې نه ده.

«**إِنَّمَا الإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ فَإِنْ أَمَرَ بِتَقْوَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَعَدَلَ كَانَ لَهُ بِذَلِكَ أَجْرٌ وَإِنْ يَأْمُرْ بِغَيْرِهِ كَانَ عَلَيْهِ مِنْهُ**» رواه مسلم.

**ژباړه:** «امام (خليفه) ډال دی چې تر شا يې جګړه کېږي او هغه ته پنا وړل کېږي. که چېرې هغه له الله عز وجل څخه پر تقوی امر وکړي او عدالت وکړي، نو د هغه لپاره د دغو کارونو اجر دی، خو که چېرې له دې (تقوی او عدالت) پرته پر بل څه امر وکړي، نو ګناه يې د هغه پر غاړه ده».

## د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر